# دریم درس

تابش پوهنتون

ژورنالیزم پوهنځی

اروا‌پوهنه

پنځم  سمستر

**استاد: سمیع الله ((ساپی))**

بسم الله الرحمن الرحيم

ارسطو د تداعي معاني لپاره درې اصله پیشنهاد

کوي.

۱ - **د مجاورت عمل**:دوه مجاور امرونه چې يوځای درک شي د يوبل د تداعي سبب ګرځي .د بېلګې په توګه :کله چې موږ.دغره پر سر واوره ووينو سمدلاسه د ژمي يخني مو په خاطر کې راځي ،چې په دې ځای کې واوره د ژمي سره د مجاورت اصل تشکيلوي.

۲- **د تضاد عامل**: متضاد عوامل یو په بل بنه تداعي کوي.

مثلاً: دګرمۍ موسم چې یخني زموږ ذهن ته راوړي، یا کله چې یونېک عمله شخص څخه یادونه کوو؛ نو بدعمله شخص مو ذهن ته راځي ،چې په دې مثال کې ګرمي له یخنۍ سره اونېک عمله له بدعمله سره دتضاد اصل تشکیلوي.

۳- **د تشابه اصل**: دوه شیان چې یوبل سره مشابه وي بنه تداعي صورت نیسي مثلاً: کله چې مورد خپل ملګري عکس وګورو ؛نوهماغه ملګری مو ذهن ته راځي ،چې په دې صورت کې عکس او دعکس شخص د تشابه اصل تشکیلوي.

دوهم مکتب چې په فلسفي افکارو استوار وه ،په روانشناسۍ کې د دماغي قدرت د مکتب په نامه يادېده ،ددې مکتب د پيروانو دعقيدې په اساس انسان د يو تعداد استعدادونو سره لکه :تفکر ،احساس،حافظه او داسې نورو سره په کډون دنيا ته راغلي دی ،چې ټول دغه استعدادونه ميراثي دي اود يوه شخص د ذهن قدرت تعينوي.

څرنګه چې د دې مکتب پیروانو ځنې استعدادونه د جمجمې په برخه کې تعین کړي دي ،چې نوموړي استعدادونه د روانشناسانو په واسطه د فلسفي افکارو تر عنوان لاندې مطالعه کېږي.

روانشناسي تر ډېره وخته پورې د فلسفې سره یوځای

مطالعه کېده حتی د دیکارت د زمانې څخه( ۲۰۰ )کاله

وروسته هم د روانشناسی علم فلسفي جنبه درلوده

،ترهغه وخته پورې چې د فزیک په علم کې نوي کشفيات

منځ ته راغلل ،چې دعلمي روانشناسی لپاره زمینه برابره

شوه .

هغه لومړنی عالم چې روانشناسي يې له فلسفې څخه جلا کړه او هغه يې تر تجربې لاندې ونيوله ويليم ونټ جرمني عالم و،(۱۸۷۹ ) م کال کې يې د روانشناسی لابراتوار د المان لبزيک په پوهنتون کې افتتاح کړه.

،نوموړي عالم غوښتل ،چې وروسته له دې باید روانشناسي د فلسفې سره یوځای مطالعه نه شي ؛نو په همدې لحاظ علمي تحقیقات یې خپل اساس وګرځاوه همدغه وخت و،چې روانشناسۍ ځانته علمي بڼه غوره کړه او یو د بل پسې علمي تحقیقات او نظریات منځته راغلل .

د معاصرې اروا پوهنې ځانګې یوله بله نږدې اوتینګې اړیکې لري اوپه عین وخت کې د ځانګړي خصوصیاتو لرونکي دي.

## د ارواپوهنې څانګې

**۱- عمومي ارواپوهنه**: هغه علم دی چې د رواني (سلوک) عمومي قوانین اوفعالیتونه د نارمل انسانانو او مشرانو په اړه بحث اوتحقیق کوي او دارواپوهنې اساسي مفاهیم ،پرنسیپونه او دارواپوهنې مېتودونه مشخص کوي او دا څانګه په حقیقت کې د ټولو سایکالوژیکي څانګو بنسټ تشکیلوي.

۲ - دانسان سایکالوژي: د دې ارواپوهنې مطالعه دانسان پورې منحصره ده او د انسان سلوک تر مطالعې لاندې نیسي.

۳ -حیواني اروا‌پوهنه: د دې اروا‌پوهنې موضوع دحیواناتو دسلوک او رفتار مطالعه ده، چې ارثي غرایضو او حواصو تابع دي.

۴- **غیر عادي ارواپوهنه**: دا ارواپوهنه دهغو اشخاصو د سلوک مطالعه کوي ،چې له طبیعي میارونو څخه منحرف شوي وي او د هغو اشخاصو ذکاوت چې بېرته پاتې دي او یا نابغه دي ترمطالعې لاندې نیسي ،دړندو او کڼو اشخاصو سلوک هم د نوموړې ارواپوهنې له لوري تر مطالعې لاندې نیول کېږي.

۵- **د ماشومانو ارواپوهنه**: دا ارواپوهنه د ماشومانو د مشخصه صفاتو څخه بحث کوي.

۶-**انکشافي اروااپوهنه** : دا اروااپوهنه دانسانانو ذهني انکشاف ،اعمال اوسلوک د ژوند په مختلفو دورو کې ترڅېړنې لاندې نیسي.

۷- **تجربوي اروااپوهنه** :دحقايقو لاسته راوړل دعلمي تجاربو پواسطه.

۸-**اجتماعي اروااپوهنه** :دا اروا پوهنه يوه ټولنه يا اجتماع د سايکالوژۍ له نظره ترڅېړنې لاندې نيسي.

۹ -انفرادي ارواپوهنه: د یوه فرد خصوصیات او اختلافات ترمطالعې لاندې نیسي.

۱۰ -جینتیکي اروپوهنه: یوشخص د وراثت له مخې ترڅیړنې لاندې نیسي.

۱۱ - روزنیزه (تربیتي) اروپوهنه: د دې اروپوهنې څخه په ښوونه او رزنه کې کار اخیستل کیږي.

۱۲ - د شخصیت سایکالوژي: د شخصیت مطالعه د اجتماعي موجود په حیث د ذهني او ساختماني سلوکونو سره.

۱۳ -حقوقي اروپوهنه: د دې اروپوهنې فعالیتونه دقضایي چارو سره ډیرې اړیکې لري لکه د مجرمینو سلوک اونور ترمطالعې لاندې نیسي.

۱۴-**د یادېدلو اروپوهنه**:دانسان او حیوان د یادېدلو دځرنګوالي مطالعه اوپه یادېدلو باندې د موثرو عواملو څېړنه ده ،ددې ځانګې موخه په اصل کې د محصل او متعلم سره مرسته ده؛ترڅو وکولای شي د یوشي په یادېدلو کې وړتیا پیداکړي اوهغه په اسانۍ سره لاسته راوړي.

۱۵- **صنعتي اروپوهنه** :د کار په محیط کې د فرد سلوک څېړي لکه د کارکونکو انتخاب، تولید د مهارتونو انتخاب...(بېلګه له یوه ډاکټره غلا).

۱۶-**تاریخي اروپوهنه**: مخکنیو انسانانود سلوک څخه بحث کوي.

مننه

واتساپ

0782 88 6000